مسئوولیت متن و  شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ
۲۰۲۲/۰۵/۲۶

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(نهمه برخه)



**د ښځو حجاب: پړونی که چادري**

چادري د پارسیانو هغه ډول جامه ده چې ښځې یې د خپلو کالیو:(خت پرتوګ او زړوکي) له پاسه اغوندي چې ښځه سر تر پښو پورې په کې پټه وي، چادري د فارسی له چادر (خیمه) څخه اخیستل شوي کلمه ده، د فارسی چادر او د عربی خیمې ته پښتانه کېږدی وایي.

چادري عربان برقع بولي، د پیغمبر (ع) په زمانه کې بورقه په عربو کې چا نه پېژندله، د محمد (ص) له وفات وروسته عربانو د خپلو جګړه ییزو بریو په پایله کې چې کله به یې خپلې ښځې، نیول شویو سیمو ته له ځانونو سره لېږدولې نو د امنیتي وضعیت له امله یې بورقې وراغوستلې.

پښتانه چادرۍ یا برقع ته نوم نه لري ځکه چې دا ډول کالی د پښتنو د ښځو پر کالیو پورې هېڅ اړه نه لري او دا په دې شهادت کوي چې چادري یا برقع د پښتنو کالي نه دي.

لرغونو پښتنو د پښتونولۍ د قانون پر بنسټ ښځو ته له آره خپل ځانګړي کالي درلودل، په دې اړه چینایي سیاح (هیون څانګ) په (۹، ه) کال کې د ختیځ افغانستان، د سپند سیند تر غاړو پورې د مېشتو وګړو د اغوستن د کالیو په هکله مالومات لیکلي او د ښځو د کالیو په اړه وایي: «... او ښځې اوږده ختونه (کمیسونه) لري چې د دوی متونه په کامله توګه پټوي او د خت لمنې یې پر ځمکه پورې لګیږي.» (علامه پوهاند عبدلحی حبیبي: تاریخ افغانستان بعد از اسلام. ۶۲۲مخ)

پښتني میرمني له کوره بهر د چادرۍ پر ځای لوی پړونی یا ټکری په سروي چې پرته له (مخ، لاسونو او پښو) څخه نور ټول غړي یې په کې پټ وي او د  اسلامي شریعت له اصلي حجاب سره کټ مټ سمون لري.

لکه وړاندې مو چې د لیکنو په درېیمه برخه کې ویلي وو چې د لرغونو پښتنو د کالیو ښه بېلګه چې تر اوسه موږ ته راپاتې ده، د پښتنو کوچیانو د ښځو کالي دي.

د دا ډول کالیو او د پښتنو د میرمنو د زړورتیا او نورو مشخصاتو په اړه انګرېز جاسوس (جورج فوسټر) چې د ختیځ هند کمپنۍ لخوا د تیمور شاه د واکمنۍ پر مهال په کال ۱۷۸۳ز، کال کې د لومړني انګرېز جاسوس په توګه افغانستان ته لېږل شوی ؤ، د پېښور، ننګرهال، کابل او کندهار په لارو کې خپل د سترګو لیدلي حالات وړاندې کړي دي چې موږ یوازې د پښتنو ښځو په اړه لنډ مالومات را اخلو: «... د دوی ښځې پټې وې خو دومره په سختۍ پرده نه کوي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ   maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

فوسټر زیاتوي:«زموږ په قافله کې د پاچا لپاره د کشمیر د والي له خوا د تبت څلور سپي هم وو، د دوی لپاره ځانګړي تنکرۍ (د لرګي چوپان) [؟] [تیار شوي] وو او په لاره کې ډېر پام پرې کیدو، په جم (جمرود) کې د سپیو یو ساتونکي دوی یو تالاو [ډنډ] ته یوړل چې ښځو به اوبه ترې وړلې، هغه وخت یوې ښځې په منګي کې اوبه ډکولې چې سپي یې ولیدل نو په تیږو یې وویشتل، هغه په ښکنځلو سر شوه چې سپي به اوبه پلیتې کړي، هغه سړي ته یې ګواښ وکړ چې اوس به د کلي ټول خلک راوباسي، د سپیو ساتونکی په وېره بېرته قافلې ته راغلو او باشي [مشر] ته یې وویل چې تر څو عسکر ورسره نه وي هغه تالاو ته نه ځي.»

هغه مهال چې کاروان له کابله کندهار ته رهي ؤ جورج فوسټر د یوې زړې ښځې (چې د کابل سلطنت بیان د کتاب لیکوال، مونټ سټوارټ الفنسټن یې د کاروان مشره بولي) په اړه چې فوسټر یې تر خپلې حمایې لاندې نیولې ؤ وایي:«... په یو اوښ یوه سپین سري میرمن د خپلې لور سره ناسته وه چې د لوړې کورنۍ ښکاریده، لور یې ډېره ښکلې وه او دوه ماشومان هم ورسره وو، هغې میرمنې په لاره [د کاروان مشر] دوران [نومي] ته دومره بدې ردې وویلې چې د ده خله یې بنده کړه او غلی شو... د کاروان مشر دوران خلکو ته ویلی وو چې فوسټر یهود دی، خو د ده پلوي هغې افغانې میرمنې وکړه چې ماشومان ورسره وو، جورج به ماشومانو ته بسکټ او چیني [خواږه] ورکول، نو هغې مېرمنې د ده په پلوۍ خلک وترټل، بیا پاتې لاره کې د هغې مېرمنې له وېرې جورج ته چا څه ونه ویل شول.» (افغانستان ته د لومړي انګرېز سفر، د یون لیک خلاصه: ژباړه: صفیه حلیم)

د انګرېز جاسوس له مشاهداتو ښکاري چې پښتنو ښځو په کلیو او د سفر پر مهال چادرۍ نه درلودلې او خپل پښتنې او اسلامي کالي یې په تن وو.

د پښتنو د ښځو پړونی په پښتنولۍ کې خورا لوړ ارزښت او عزت لري او پښتانه د قدر په سترګه ورته ګوري، کله چې د دوو کورنیو ترمنځ ډېره سخته دښمني هم وي، د پړوني د درنښت لپاره د یو بل ښځو ته درناوی کوي او هېڅ ډول ضرر نه ورسوي، په دې اړه مرحوم کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي لیکي:«پړونی یا پوړنی او ټکری یو مفهوم لري او په مجازي ډول د ښځې مفهوم ورکوي. پړونی په پښتنو کې مقدس دی. وایي چې په قافله کې به چې کومه ښځه موجوده وه نو غله به نه ورنږدې کیږدل چې دا د پړوني درناوی ؤ. په کومه پېښه کې چې ښځه د شفاعت لپاره پښه کیږدي نو وایي چې د پړوني په مخ یې مدعي وباښه او دا د غیرت نښه هم ده، یا دا چې په پړوني کې یې وروباښه یاني هغه مجرم ته یې ښښنه وکړه.» (د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس، ۶۷مخ)

لکه څه ډول چې عطایي صاحب لیکلي دي د پښتنو په ډېریو سیمو کې ښځې یوازې د وژل شوي کس کور ته له قومي مشرانو سره یوې ځای درومي چې د وژل شوي کورنۍ لخوا پړوني ته د درناوي له امله قاتل ته ښښنه کیږي.

د آریانا په دري دایرة المعارف درېیم ټوک کې د چادرۍ په اړه مالومات راغلي دي چې وایي:«چادري یوه بهرنۍ وارده شوي پدیده ده چې د وخت د اړتیا له امله د افغان انګرېز په لومړۍ جګړه (۱۸۳۹- ۱۸۴۲ز) کې چې د انګرېزانو اشغالګر ځواکونو کابل نیولی و، له دوی څخه د ښځو د ساتنې په موخه مصلحتاً د کابل په ښځو کې رواج شوه، دا چې د انګرېزانو ډېر شمېر عسکر کابل ته راغلل او د سیاه سنګ، بي بي مهرو او شېرپور په پوځي پنډغالو کې ځای پر ځای شوي وو او د کابل په بازارونو کې ګرځیدل نو کابل مېشتو ښه وبلله چې ښځې د هغوی له سترګو په امن کې وي او د لنډې مودې لپاره یې پر هغوی چادرۍ واغوستلې، هغه مهال د کابل ښځو لپاره تر ټولو د خوښې د مخ پټولو هماغه د هندي نوابانو د ښځو دوديز پړوني وو چې د انګرېزانو له ښځو په تقلید یې په هند کې په سرول چې د هغوی د ښکلا شهرت په کابل کې ځینو کورنیو ته هم رسیدلی ؤ چې وروسته دغه پړونی په چادرۍ بدل شو چې سر تر پښو پورې یې ښځې پټولې، تر دې چې ځینې وختونه به سړیو [د انګرېز جاسوسانو] هم د ښځو د چادریو په اغوستلو سره د انګرېزانو له لوړپوړو چارواکو سره اړیکې ټینګولې.»

د پورته مالوماتو د تایید په اړه په افغانستان کې د انګرېزانو د زناکاریو د ناوړه پېښو مالومات په تاریخونو کې خوندي دي، هغه مهال چې انګرېزانو پر افغانستان یرغل وکړ دوی په دې خیال کې وو چې پر افغانانو به هم د نړۍ د نورو سیمو په څېر، چې هر څه یې زړه وغواړي عملي کړي، هغه وو چې دوی د افغانانو پر ښځو څو ځایه تېري وکړل دا چې ځینې افغان مېرمنې په زور زبرزنا ته اړې کړی شوې او ځینې هغه رنډۍ (زناکارې) ښځې چې د کابل په ښار کې اوسیدلې په خپله خوښه ورغلې او یا وروستل شوې وې چې په پای کې د کابل د پاڅون بنسټیز لامل همدا د انګرېزانو بې ناموسۍ وې چې له امله یې انګرېزانو ته لویه تاریخي تباهي او بدنامي ورسول شوه.

نواب جبار خان چې د امیر دوست محمد خان ورور ؤ او له انګرېزانو سره یې له پخوا څخه ژورې اړیکې درلودلې او د دوی باوري کس ؤ، هغه مهال چې انګرېزانو د غزني کلا د ځینو کسانو د خیانت له امله ونیوله، نواب جبار خان د خپل وراره، غلام حیدر خان چې د غزني حاکم ؤ او دا مهال له خپلې کورنۍ سره له انګرېزانو سره اسیر ؤ د لیدو او خوشي کیدو په موخه غزني ته تللی ؤ او د انګرېزانو زبرزناوې یې په خپلو سترګو لیدلې وې چې په دې هکله د انګرېزانو پیاوړی جاسوس موهن لال کشمیری داسې لیکي:«ما ته هدایت راکړل شو چې له نواب سره د کمپ تر دروازې پورې ورسره ولاړ شم، په لاره کې د سپاسالار او لوی استازي د خیمې په منځ کې د یوې ښځې نارې سورې واوریدل شوې او نواب فکر وکړ چې دا به د هغو ښځو له ډلې څخه وي چې په د غزني په کلا کې نیول شوي دي. نواب ماته مخ کړ په داسې حال کې چې څېره یې له قهره ډکه وه او سر یې ښوراوه لکه د ژبې لاندې چې کنځلې کوي، ویې ویل:« تا خو پرون ماته په ویاړ سره ویل چې انګرېزان له نیول شویو ښځو سره په درنښت او شرافت چلند کوي، مګر دا غږ د چا دی؟»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موهن لال وايي:«ما نواب ته ډاډ ورکړ د هغه کس له خېمې چې کوم غږ پورته شو، شايد هغه له نږدې کلي څخه يوه ښځه راوستل شوې وي، هغه ښځې چې د غزني په کلا کې نيول شوي دي له هغوی سره په حرمت او شرافت چلند شوی دی.»
موهن لال زياتوي:«زه د نواب پروړاندې د هغه کس خېمې ته ولاړم او هغه بې چاره ښځه مې خلاصه کړه.» (زندگی امير دوست محمد خان، ۱۶۴مخ، دري ژباړه: مرحوم سيد خليل الله هاشميان)
په کابل کې انګرېزانو يو شمېر هغه ښځې چې په زور يې خپلو استوګنځايونو ته بيولې وې او هغه رنډې ښځې چې په خپله خوښه ورغلې وې، د ښځو له شتون څخه سوچ منکر وو، که چا به د انګرېزانو لوړپوړ چارواکو ته شکايت وکړ هغوی به هم له دا ډول پېښو سترګې پټولې، په کابل کې د انګرېزانو د زنا او زبرزنا په اړه د ډېرو مالوماتو لپار د موهن لال کشميري کتاب:زندگی امير دوست محمد خان امير کابل، ۳۰۴- ۳۰۶- ۳۰۷- ۳۰۹مخونه ولولئ او د منشي عطا محمد شکارپوري کتاب: تازه نوای معارک ۴۷۸ مخ کې هم لږ مالومات شته.
لکه څه ډول چې د آريانا په دايرة المعارف کې د انګرېزي جاسوسانو يادونه شوې ده چې په چادريو کې به يې جاسوسي کوله، غلام خان پوپلزی چې د موهن لال په څېر د انګرېزانو يو پياوړی جاسوس ؤ، وړاندې له هغې چې د انګرېزانو ځواکونه کندهار او کابل ته ورسيږي د انګرېزانو لپاره يې ګټورې کړنې ترسره کړې وې چې د ده په کړنو باندې امير دوست محمد خان خبر شوی او د هغه د نيولو فرمان يې ورکړی ؤ، موهن لال ليکلي:«... غلام خان د خپلې څېرې په بدلون سره د ښځو کالي اغوستي او چادري يې په سر کړې وه او ځان يې له سر تر پښو پورې پټ کړی ؤ، کهيخ مهال وختي، په خپله سپرلۍ باندې د امير له منګولو وتښتيد او په يو ليرې ځای کې پټ شو او په دې توګه، هغه په مهارت سره د امير له چارواکو ځان وژغوره.» (زندگي امير دوست محمد خان، ۲۰۱مخ)
له بلې خوا له غازي وزير محمد اکبر سره اسيره انګرېزه (ليډي سېل) د چادرۍ په اړه ليکي چې د نومبر په ۱۱/ ۱۸۴۲ز، کال، له کندهاره خبر راورسيد چې د شاه شجاع يوه عسکري قطعه چې سياسي محبوسين يې د لفتننت (کروفورت) تر نظر لاندې انتقالول تر بريد لاندې راغلي او له منځه تللي ده چې کپتان (سنويس) هم په کې ؤ او کپتان (سکتر) په دې هيله چې له مرګه ځان وژغوري د ښځو جامې (چادري) يې اغوستي وې او له ښاره وتلی ؤ، خو وپېژندل شو او ووژل شو. (شبخون افغان، ۶۰مخ)
په پای کې دې پايلې ته رسيږو چې چادري د پښتنو مېرمنو په کاليو پورې اړه نه لري د پښتنو ښځو حجاب هماغه لوی پړونی دی چې له کوره بهر او په اوږدو سفرونو کې يې په سروي، پښتنې مېرمنې چې د اسلام د سپيڅلي دين څخه وړاندې هم پتمنې وې، کېدی شي د هغو پيغمبران په ښوونو يې عمل کړې وي چې هر قوم ته، د دوی په خپله ژبه پيغمبران لېږل شوي دي:
﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ﴾
ژباړه:«او نه دی لېږلی موږ يو رسول مګر په ژبه د قوم د ده، لپاره د دې چې ښه بيان کړي هغوی.» (ابراهيم: ۴)
نېټه: ۱۴۰۱/۳/۲۶ل. ل
نور بيا





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غير و لولئ